مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۸/۰۸

# تذکرې

سپین ږیري میلمه د خپل ماشومتوب نکل را اخیستی و:

کلي ته نا اشنا خلک راغلل. غټ غټ کتابونه ور سره ول. د کلي ملک او مشران هم راټول شول. زموږ نومونه یي کتاب کي لیکل. او یو کاغذ به یي راکوه. چاته به یي یو شی مخامخ کړ او شیبه وروسته به ترې د هغه نفر عکس راووت او په کاغذ به یي سریښ کړ.

میلمه ویل: دي خلکو موږ ته تذکرې جوړولي او په هماغه شیبه یي راکولي.

میلمه د داود خان د دور کیسه کوله .

له هغي دورې شاوخوا نیمه پېړی اوښتي. نیمه پیړۍ کي نور څومره مخکي لاړل او موږ!

چي فیسبوک پرانیزو، د تذکرو د اخیستلو له اوږده او ستړي کوونکي پروسیجره شکایت وي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ